# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## ليلا، د فوټبال ستوری

Eden Daniels
Eden Daniels
Zahidullah Abid

This work is licensed under a Creative Commons Attribution-NonCommercial 3.0 International License.

https://creativecommons.org/licenses/by-nc/3.0

# ليلا، د فوټبال ستوری



Eden Daniels
Eden Daniels
Zahidullah Abid
2
پښتو ps



لیلا د هلکانو د فوټبال ننداره کوله.
هغې غوښتل چې کاش له دوی سره
لوبېدلې وای. هغې له لوبډلمشر څخه
وپوښتل، ایا کولی شي له دوی سره
تمرین وکړي؟



روزونکي خپل لاسونه شاته ونیول او
هغې ته یې وویل: “په دې ښوونځي
کې، یوازې هلکانو ته اجازه شته چې
فوټبال وکړي.”



هلکانو هغې ته وویل چې ولاړه شه او د نېټبال (جال بال) لوبه وکړه. دوی ورته وویل چې نیټبال د نجونو لپاره دی او فوټبال د هلکانو لپاره دی. لیلا ډېره زیاته خپه شوه.





لوبې ته راغلو نندارچیانو ډېره خوښي وښوده، او له همغې ورځې وروسته نجونو ته اجازه ورکړل شوه چې په ښوونځي کې د فوټبال لوبه وکړي.



بله ورځ ښوونځي د فوټبال یوه لویه سیالۍ درلوده. روزونکی ډېر اندېښمن و، ځکه چې د هغه غوره لوبغاړی پدې ورځ ناروغ و، او لوبه نه شوه کولی.





د لوبې په دوهمه نیمایي کې یو هلک لیلا ته توپ پاس کړ، هغې د ګول کیپر په لورې په ډیرې چټکۍ سره توپ وځغلوه او د پښې په واسطه یې ګول ووهه.



ليلا د ښوونځي د فوټبال روزونکي ته
ورغله، او ورڅخه يې وغوښتل چې هغې
ته اجازه ورکړي چې لوبه وکړي،
روزونکی ډاډه نه و چې ليلا به څنګه
لوبه وکړي. بلاخره د ليلا په مکررې
غوښتنې اجازه ېې ورکړه چې لوبه
وکړي.





لوبه ډېره ستونزمنه وه. د لوبې تر
نيمايي پورې هيچا هم ګول ونه کړ.